مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۴/۲۷

# ګرګین اومیرویس:

تاریخي متون موږ ته د کندهار او شاوخوا سیمو له خلکو سره د ګرګین د چلند په باره کي ډېر لږ تفصیل راکوي خوپه دې یوه خبره کي تول په یوه عقیده دی چي ګرګین او د هغه عسکرو د خلکو د سر، مال او ناموس د خوندي کولو رعایت نه کاوه او خلک یي په ډېر لږ وخت کي دونه په عذاب کړل چي هر ګړی یوه لوی بنورښ ته تیار ول. که څه هم چي کندهار ته د ګرګین د رسېدلو په وخت کي د ښارخلک آرام ول او د کوم بنوربښ او نافرمانی څرګندي نښی نه لیده کېدلې.

ځیني منابع له خلکو سره د ګرګین او د هغه د افرادو د بد سلوک په برخه کي د مذهبی تعصب مسله طرح کوي او وایی چي ګرګین او د هغه پوځیان نصرانیان ول او د کندهار او شاوخوا خلکو کرکه ورڅخه درلوده. مرعشی، مجمع التواریخ ص ۴

مرعشي لیکي چي د شاه حسین په زمانه کي د کندهار بېګلربېګي یعنی امیرالامراء د ګرجستان یو والي زاده ګرګین خان وو او د اوو اتو زرو ګرجي محافظینو سره د کندهار د قلا، زمینداور، بست او شال و مستونګ، فوشنج (پښین ج) د غلجیو قلات، د بلوڅو قلات، ګرشک، فراه او اسفزار(اوسنی شینډنډ ج) تر سرحده پوري فرما وو. څرنګه چي ګرجیان تول نصرانیان ول نو پر مسلمانانو باندي د هغوی حکومت ډېر دروند تمام سو. . . . هغوی د کندهار شاوخوا علاقو په تېره بیا افغانانو پر ناموس باندي تېری کاوه. او چي میرویس به ګرګین ته هرڅه ویل هغه به نه منل بلکه دا یي د میرویس سرکښی ګڼله. څرنګه چي میرویس او د افغانانو فرقي سني مذهب دي نو د قزلباشو د حکومت څخه یي سخت نفرت درلود او د ګرجیه فرقي له حکومت سره یي دا نفرت دوه چنده سو. هغه کتاب ص ص ۳-۴

دا مو باید په نظر کي وي چي کندهار او په هغه پوري مربوطي علاقي یوازي له دې امله اصفهان ته مهمي نه وې چي د مغلي هند سره پر سر حد یي قرار درلود بلکه کندهار، د ستراتیژیک موقیعت ترڅنګ، دونه زیات تجارتي او اقتصادي اهمیت درلود چي نه صفوي دربار او نه د مغلي هند حکومت پر هغه باندي سترګي پټولای سوای. دغه علت دی چي دا ښار او شاوخوا علاقي په نیږدی یوه نیمه سدی کي د هند د مغلي واکمنانو او د ایران د صفوي رژیم ترمنځ څو ځله لاس پرلاس سو او نیږدې لس ځله قلا بند سو. کامبریج هستوري آف اینډیا په دې باره کي لیکي:

« که څه هم چي د ایران دربار په دغه وخت کي د ډیرو سختو داخلي او خارجي مشکلاتو سره مخامخ وو: په شمال او شمال ختیځ کي قوي ګاوندیانو روسیي او ترکیي له ایران څخه ښارونه او بندرونه لاندي کړي او حتی لوی ایالتونه یي تهدیدول؛ مګر د کندهار ښار او په هغه پوري مربوطه پراخه سیمه ځکه اصفهان ته ډېره مهمه وه چي د ایران او هند ترمنځ د تجارت لویه لاره له دغه ښار څخه تېرېده. یو ځل خو په توکرانو او قیمتي ډېرو بار زر اوښان د کندهار له لاري اصفهان ته ورسېدل او په اصفهان کي د دغو مالونو بیه په سلو کي ۱۵ را ولوېده. که څه هم چی ایران ته زیاتره مالونه د سمندرله لاري ورتلل خو د کندهار له لاري هم دونه مالونه ایران ته تلل چي صفوي دربار له خپلو تولو ستونزو سره سترګي نه سوای وربانډي پټولای. مګر د اووه لسمی پېړیٔ په وروستیو شپو ورځو او د اته لسمي پېړی په لومړیو کلونو کي بلوڅانو او پښتنو دومره بنوربنونه وکړل چي د کندهار د سیمي امنیت یي له منځه یووړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

او يوه انګليسي تاجر وليکل چي لاري بندي دي او د مالونو خرڅلاو مشکل سوی دی. هغه هندي مالونه چي د فراه او سيستان او کرمان او بيا اصفهان او نورو ښارونو ته وړل کېدل او دغه راز هغه مالونه چي د هرات له لاري خراسان ته وړل کېدل تقريباً ټول د کندهار له لاري څخه تېرېدل او بيا د فراه هرات له لاري ايران ته رسېدل.

The Cambridge History of Iran Vol6 P 475

دا وخت د کندهار او شاوخوا قبايلو، چي اکثريت يې غلجي وه، مشرتوب د ميرويس خان په لاس کي وو او د کلانتر مقام يې درلود. هيڅ تاريخي متن موږ ته د ميرويس خان د زېږېدلو او حتی د مړيني دقيقه نېټه نه راکوي. تاريخي متون موږ ته نه وايی چي ميرويس خان د دغه قومي مشرتابه په وخت کي څوان وو او که سپين ږيری. البته د کروزينسکي له خاطراتو څخه چي وايی هغه يو هوښيار او کاردان سړی وو. افغانانو د هغه اطاعت کاوه. د هندوستان له اوسېدونکو سره يې ډېره زياته علاقه درلوده. ډېر زيات دولتمند سړی وو. سفرونه يې کول. ډيري ګټي کړي وې او ډېر زيات مال يې جمع کړی وو، موږ دونه ويلای سو چي هغه به د پاخه عمر څښتن وو.

ګرګين خان کندهار ته له رسېدلو سره سم د ميرويس خان سره مخامخ سو او داسي ښکاري چي هغه د کندهار او شاوخوا سيمو په پوځي، سياسي او قومي چارو کي يوازي پر ميرويس خان باندي حساب کاوه. مرحوم بېنوا موږ ته د تاريخ سلطاني په حواله وايی چي ميرويس خان پخپله ذکاء او کامل تدبير ګرګين خان ځانته جلب کړ او ګرګين خان داسي وګڼله چي ميرويس خان د ده له صميمي همکارانو څخه دی؛ څوچي لږ وروسته ، د ګرګين په مشوره اصفهان ته ولاړ او له هغه ځايه څخه يې د پښتنو د مشرتوب خط راووړ. بېنوا، ميرويس نيکه ص ۳۶

البته کروزينسکي په دې عقيده دی چي ګرګين له لومړۍ ورځي ميرويس ته د شک او ترديد په سترګه کتل او وروستيو پيښو وښودله چي د کروزينسکی عقيده پر ځای وه. *

* کروزينسکی ليکي چي ګرګين خان ليدله چي ميرويس د اصفهان د حکومت د اوامرو اطاعت کوي او د هغه مال او دولت او نفوذ ته يې د کيني او حسد په سترګه کتل. له ګرګين سره دا طمع پيدا سوه چي په کوم چل به د ميرويس څخه مال او دولت غصب کړي او د هغه نفوذ به کم کړي او حتی د هغه سپکاوی به وکړي. ځکه يې نو ميرويس خپل حضور ته ور وباله او ډيري غوري خبري يې ورته وکړې. ښه يې ونازاوه او د ځان له طرفه يې هغه ته اطمينان ورکړ. بيا يې نو ميرويس ته وويل چي ته يو هوښيار او په کارونو پوه سړی يې نو زما نيت دی چي تا د ځينو مهمو چارو لپاره اصفهان ته ولېږم. ميرويس ته يې راز راز وعدې ورکړې او د هغه په زړه کي يې ډيري هيلي پيدا کړي. کروزينسکی ص ۱۸

کله چي سړی اصفهان ته د ميرويس له رسېدلو څخه وروسته پيښو ته ګوری نو يقين پيدا کوي چي د کروزينسکی عقيده پر ځای وه او ګرګين له لومړۍ ورځي ميرويس خان ته ښه نيت نه درلود.

ګرګين په کندهار کي، د ميرويس خان سره د سلوک غوره کولو په برخه کي، دوې لاري درلودلې. يا يې بايد د ميرويس په مرسته پښتانه ابل کړي او د ايران په مقابل کي يې د مقاومت زنې له منځه وړی وای او يا يې بايد تر هرڅه مخکي پخپله د ميرويس خان چاره کړې او له منځه ايستلی وای او بيا يې نو خپل پلانونه عملي کړي وای. دا چي هغه دوهمه لاره غوره کړه او ميرويس خان ته يې وويل چي ته يو هوښيار سړی يې او تا بايد د ځينو مهمو کارونو لپاره اصفهان ته ولېږم ( تاريخ سياح ص ۱۸) د دې معنا دا ده چي لومړنی لاری يعني د پښتنو په مقابل کي د ميرويس ملګري کولو پلان کار نه دی ورکړی. ميرويس د ګرګين په خوله اصفهان ته روان سو اوګرګين په هغه پسي مکتوب واستاوه او د اصفهان دربار ته يې وليکل چي ميرويس يو سرکښ سړی دی اوکه اصفهان خپل خير غواړي نوهغه دي هلته يا مړ او يا دي يې په هغه وطن کي د تل لپاره بندي کړي.*

* مرحوم عبدالرووف بېنوا د ميرويس نيکه په نوم کتاب ۳۶ مخ کي د تاريخ سلطاني د کتاب د ۷۱ مخ په حواله ليکي چي د کندهار بيګلربېګي ګرګين، ميرويس خان د دې لپاره اصفهان ته واستاوه چي هلته يې په دربار کي قدر او قيمت زيات سي او هغه چي له اصفهان څخه راستون سو نو د ګرګين په مصلحت د فارس د حکومت له خوا د پښتنو د مشر په توګه مقرر سو. بېنوا ليکي چي ميرويس له ګرګين سره ډېر ښه روابط درلودل او هغه به د ليري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

پرتو ځایونو د مالیاتو ټولولو وظیفه میرویس ته سپارله. مرحوم ښېنوا وروسته په ۳۷ مخ کي د ملیسن د افغانستان تاریخ په حواله لیکي چي میرویس یوه ډله پښتانه مشران د ګرګین د ظلمونو د لاسه د شکایت کولو په منظور اصفهان ته واستول؛ مګر په اصفهان کي چا د هغوی پر شکایتونو غوږ ونه نیوی او درباریانو هغوی صفوي شاه حسین ته د یاغیانو په حیث معرفي کړل. نو شاه حسین هم ورباندي په قار سو او دوی یي ناهیلي کندهار ته واستول. ملیسن ص ۲۱۳

البته ملیسن هم د خپلي دې ادعا لپاره کوم تاریخي استناد نه دی ذکر کړی او په نورو تاریخي کتابونو کي هم د دغه راز او پیښی یاونه نه ده سوې. مرحوم ښېنوا وروسته لیکي چي کله ګرګین له دې عریضې څخه خبر سو میرویس خان یي له پاچا سره په دښمنۍ کولو تورن کړ او له خپلو ملګرو سره یي نظر بند اصفهان ته واستاوه. په دې حساب نو ګواکي میرویس خان دوه ځله اصفهان ته تللی او یو ځل یي پښتانه مشران، د شکایت کولو لپاره، اصفهان ته لېږلي دي. په داسي حال کي چي تقریباً ټول تاریخي متون موږ ته وایی چي هغه یوازي یو ځل یا پخپله او یا د ګرګین په حکم اصفهان ته تللی او له هغه ځایه کندهار ته ستون سوی دی او وروسته د کندهار او شاوخوا سیمو د آزادۍ په فکر کي سوی دی.

مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبي په خپل کتاب تاریخ مختصر افغانستان ۲۴۳ مخ کي لیکي چي میرویس خان څلور ځله اصفهان ته ولاړ او صفوي دربار ته یي د ګرګین خان د ظلمونو له لاسه شکایت وکړ او یو ځل شاه حسین پخپله ورته وویل چي زه پخپله د ګرګین څخه په وېره کی یم او پر هغه باندي زما فرمان نه چلیږي. البته نه تاریخي متونو اصفهان ته د میرویس څلور ځله تلل ثبت کړي دي او نه میرویس د ګرګین له لاسه د څلور ځله شکایت کولو امکان درلودلای سوای. او دا هم چنداني ممکنه نه ده چي د ایران شاه دي، یوه پردي استازي ته، په دونه څرګنده توګه د خپل یوه بیګلر بیګي په مقابل کي خپل عجز او کمزوري وښیي.

میرویس خان په اصفهان کي ډېر ژر پوه سو چي هغه تر نظارت لاندي دی او ښایی وضع یي تر دې هم خرابه سی. هغه د خپل ځان د ژغورلو په فکر کي سو؛ خو له نېکه مرغه چي د اصفهان د دربار کمزوریو، بې اتفاقیو او رشوت خوریو ته ډېر ژر متوجه سو. سمدستي یي په عالي رتبه مقاماتو کي د شالونو او ګران بها سوغاتونو او پیسو په وېشلو پیل وکړ. لومړی یي د اعتمادالدولة زړه په تحفو او رشوتونو رانیوی او وروسته د اصفهان د دیوان بیګي خسروخان، د ګرګین وراره کورته ورغی . هغه ته یي هم ښې ګرانبها تحفي ورکړې او په ډېر لږ وخت کي یي د دربار په هره ډله کي نفوذ وکړ. د خسروخان په کور کي یي د ګرګین دونه صفت وکړ چي هغه ورته هګ پک سو او خپل اکا ته یي ولیکل چي دونه ښه دوست یي څرنګه وړیا له لاسه ورکړی دی. خو میرویس د اعتمادالدولة په کور کي، چي د ګرګین او د هغعه د وراره مخالف وو، د ګرګین په باره کي داسي خبري وکړې چي د ایران دربار یي له هغه څخه ووېراوه او د هغه نیتونو ته یي بدبین کړ. تاریخ سیاح ص ص ۱۸-۱۹

میرویس خان اعتمادالدولة دومره د ځان طرفدار کړ چي هغه یي شاه حسین صفوي ته شفاعت وکړ او ورته وې ویل چي ګرګین له میرویس سره صرف د شخصي دښمنۍ او اغراضو له امله هغه اصفهان ته لېږلی دی. شاه حسین هم میرویس عفو کړ او میرویس له دغه فرصت څخه ګټه واخیسته او لږ وخت وروسته د حج د فریضې د ادا کولو لپاره مکې معظمې ته روان سو.

کله چي میرویس مکې معظمې ته ورسېدی هلته یي سمدستي له سني علماوو سره وکتل. هغوی ته یي وویل چي دی د یوه داسي هیواد څخه راغلی دی چي تقریباً ټول اوسېدونکي یي سني مذهبه مسلمانان دي او څه وخت کیږي چي پر دوی باندي د عجم پاچاهان مسلط سوي دي. هغوی پر موږ باندي بېحده زیات ظلمونه کوي او اوس یي یو ظالم او بې ایمانه حاکم د یوه لښکر سره د دوی د ارادې په خلاف هلته ګمارلی دی. حاکم او د هغه پوځ د شرعي خلاف کارونه کوي او زموږ پر ناموس باندي تېری کوي. زموږ ماشومان را څخه تښتوي، ګرجستان ته یي وړي او هلته یي د غلامانو په څېر خرڅوي او زموږ ښځې په زور په نکاح کوي.

میرویس خان له سني علماوو څخه استفتاء وکړه چي آیا شرع موږ ته اجازه راکوي چي توري ته لاس واچوو او له هغوی سره جګړه وکړو؟ او که جګړه ورسره وکړو زموږ جنګ ته جهاد ویل کېدلای سي؟ اوکه په دغه لاره کی ووژل سو نو موږ به شهیدان یو او کنه؟ . . . تاریخ سیاح ص ۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د مکي معظمي علماوو او مجتهدينو ميرويس ته فتوا ورکړه چي د هغه اولس له خپل مذهب څخه د دفاع حق لري او د ضرورت په وخت کي وسلي ته لاس اچولای سي. ميرويس خان په اصفهان کي رشوت خورو مقاماتو ته تحفي او سوغاتونه ورکړل او دربار ته د نيژدې کسانو زړونه يې دونه رانيول چي په لږ وخت کي د ملکي چارو د مصلحت په شورا کي شامل سو. تاريخ سياح ص ۲۱

اعتمادالدولة هغه ته خط ورکړ او ورته وې ويل چي که چيري گرگين خان له تا سره بد وکړي نو ته شاهي دربار ته عرض کولای سي او له هغه څخه به تحقيقات کيږي اود دې ترڅنګ د گرگين وراره خسروخان هم خپل اکا ته وليکل چي پاچا د ميرويس خان خواته توجه کړې ده . د هغه قدر يې کړی دی. نو ته هم د هغه قدر وکه ځکه چي پاچا پخپله ميرويس کندهار ته لېږلی دی. هغه کتاب ص ۲۴

ميرويس خان په اصفهان کي د اوسېدني په وخت کي د خپلو حرکاتو او خبرو په وخت کي د د ونه فوق العاده احتياط څخه کار واخيست چي په دربار کي يې د هرچا له زړه څخه دا شک ليري کړ چي هغه به گوندي په زړه کي څه بد خيالونه او نيتونه لري. هغه په اصفهان کي ډېر زيات پاته سو او وطن ته يې د ستنېدلو په برخه کي هيڅ ډول احساسات نه ښودل او حتی کله کله چي به يې د اصفهان د ودانيو او ښې آب و هوا ستاينه کوله نو تل به يې ويل چي غواړي خپله کورنی اصفهان ته ورسره راولي.

History of the Late Revolutions of Persia Vol 1 PP 172-173

په اصفهان کي د ميرويس د هستوګني په وخت کي يوه په زړه پوري پېښه وسوه چي هم يې ميرويس خان ته د عالي رتبه مقاماتو حتی له شاه حسين سره د خبرو کولو زمينه برابره کړه او هم يې ميروسس خان ته وښودله چي د ايران دربار ترکومي اندازې په خُرافاتو کي ډوب او ضمناً وېري څومره غلبه ورباندي کړې ده.

په دغو وختونو کي د روسيي دربار د ايران دربار ته د اسراييل اوري Israel Orii په نوم يو ارمني اصله، چي د ايران په شمال کي زېږېدلی وو، د سفير په توګه مقرر کړ. دا سړی د کافي پلورلو تاجر وو. فرانسي، ايټاليي او جرمني ته د کافي د خرڅولو لپاره تللی وو او سفرونه يې کړي وه. په اروپا کي يې بېلو بېلو دربارونو ته لاره پيدا کړې وه او بالآخره يې د ماسکو په دربار کي دونه حيثيت او اعتبار پيدا کړی وو چي قسطنطنيي ته يې د مذاکراتو لپاره واستاوه. هغه دغه ماموريت په ښه توګه سرته ورساوه او په بدل کی يې د روسيي له امپراطور څخه وغوښتل چي که يې چيري په ايران کي سفير کړي. د روسيي امپراطور د هغه غوښتنه ومنله او څرنګه چي د ايران دربار له سفيرانو څخه محصول نه اخيست نو ده هم، په لږوخت کي د شته من کېدلو په منظور، ډېر زيات مالونه ورسره واخيستل. سفير په لاره کي د روم او ويانا څخه هم مکتوبونه ورسره واخيستل او ډېر زيات ارمنيان او روسان يې ورسره ملګري کړل او د ايران پر لور يې حرکت وکړ. څرنګه چي له يوې خوا له ده سره ډېر زيات کسان ملګري ول او له بلي خوا يې په خپل يوه تم ځای شماخي کي ويلي وه چي دی د ارمني پاچاهانو له نسله دی او اوس هم ګواکي د ارمنستان د پاچهی دعوه لري. د ايران دربار دونه خُرافي وو چي له هر شي څخه يې ځانته په لوی لاس بلا جوړوله نو د دغه سفير د نيت په باره کي يې له مشاورينو سره خبري پيل کړې. د فرانسي سفير، چي د صفوي دربار په دې انديښنو خبر وو او دا يې د خپل هيواد په ګټه بلله چي د ايران اړيکي له يوه بل اروپايی هيواد سره خرابي يا لږترلږه کم سي. هغه د ايران درباريانو ته وويل چي که تاسي د دغه سفير نوم ته متوجه سی او هغه ته لږڅه تغيير ورکړی نو له هغه څخه Il Sera Roi جوړيږي يعني « زه بايد پاچا سم »

دا وخت ميرويس په اصفهان کي وو او د هغه په سر کي دونه ماغزه وه چي د ايران د دربار ټولو وزيرانو په ګډه نه درلوده. هغه خپل عقل دې ته متوجه کړ چی د ايران په څېر يوه لويه پاچهي د څومره ساده او خُرافي شيانو څخه وېريږي. Ibid pp 172-178

ميرويس له دې فرصت څخه ښه ګټه واخيستله. هغه په دربار کي د ګرگين خان له رقيب اعتمادالدولة سره ارتباط ټينګ کړ او هغه ته يې وويل چي له ارمني اصله سفير سره د ګرگين خان وراره ملګری دی. د روس امپراطور غواړي چي د دغه سفير له لاري د ايران په ارمنيانو کي نفوذ وکړي. هغوی ولمسوي څو د ايران څخه د آزادی اخيستلو بيرغ پورته کړي. ګرگين خان د خپلو ګرجي لښکرو سره په کندهار کي تيارناست دی. هغه به له وضع څخه استفاده وکړي او که په خپل سر او يوازي د خپلو ګرجي عسکرو په وسيله لوی ښورش جوړ نه کړای سي نو ښايي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د هند له امپراطور سره لاس یو کړي او کندهار ورتسلیم کړي. په هغه صورت کي به ایران له ډیرو زیاتو داخلي او خارجي دښمنانو سره مخامخ وي او دمشکل چاره به ډېره ورته گرانه وي.

د میرویس دې خبرو او مشورو دونه تأثیر وکړ چي ځیني مقامات یي په ریښتیا وارخطا کړل او ځینو له گرگین سره د خپلو ذاتي دښمینو له امله د صفوي پاچا غوږونو ته دغه خبري ورسولي او اعتمادالدولة هم د ایران پاچا په دې قانع کړ چي د گرگین د دسیسو د شنډولو لپاره باید چي میرویس کندهار ته واستول سي. پاچا د ټول دربار په مخ کي هغه ته خلعت او فاخره جامي ورکړې او هغه ته یي تر پخوا د ډېر زیات واک او صلاحیتونو سره کندهار ته واستاوه Ibid pp 176-183 .*

* مرحوم بېنوا، په خپل کتاب هوتکي ها کي، د جنگ افغان و پارس د کتاب په حواله، لیکي چي کله میرویس له اصفهان څخه د کرمان او سیستان له لاري د کندهار پر لور حرکت وکړ نو په لاره کي په هر کاروانسرای او نظامي قلا کي په عسکري تشریفاتو او عسکري میوزیک د هغه هرکلی کېدی. هوتکي ها مخ ۳۹

او همدغه عبارت د میرویس نیکه په نوم کتاب کي مخ ۵۷ کي هم راوړي. البته نه د جنگ افغان و پارس د کتاب دا خبري په کوم معتبر تاریخي اثر کي راغلي دي او نه چنداني د وخت له واقعیتونو سره سر خوري. مرحوم بېنوا له دې سره سم د قاضي عطاءالله خان د پښتنو تاریخ لومړي ټوک پر ۵۲ مخ حواله ورکوي او وایي چي کله میرویس خان د افغانستان خاوري ته داخل سو نو په هر تم ځای کي یي د قبایلو د مشرانو سره کتل او د خپلو آینده پلانونو او اقداماتو په باره کي یي جرگي ورسره کولې. په داسي حال کي چي میرویس د کرمان او سیستان له لاري کندهار ته ولاړ؛ او دا سیمي ټولي د ایران د حکومت او په تېره بیا د میرویس خان د لوی رقیب گرگین ترلاس لاندی وې او د میرویس لپاره دا فرصت نه وو چي د قبایلو له مشرانو سره دي د گرگین پر ضد جرگي مرکي وکړي. او له بلي خوا میرویس د گرگین د وژلو تر شپې پوري د هغه په مقابل کي نه هیڅ ښکاره اقدام کاوه او نه یي دا توان په ځان کي لیدی. ځکه یي نو هغه په چل او د مېلمستیا یا د بلوڅو د ښورښ په پلمه له ښار څخه وایست او ویې واژه. او پرته له دې چي د میرویس خپلو ملگرو ته تلفات وزسیږي ځان یي د تل لپاره له یوه لوی دښمن څخه بېغمه کړ.

تاریخي متون موږ ته، په دقیق ډول، نه وایی چي میرویس کله اصفهان ته واستول سو. په اصفهان کي څونه موده پاته سو او له اصفهان څخه د راستنېدلو څخه څونه وخت وروسته د ایران د صفوي رژیم او په تېره بیا په کندهار کي د هغه د ظالم حکمران گرگین څخه د قوم او وطن د ژغورلو او آزادولو پلان طرح او عملي کړ. دونه پوهېدلای سو چي میرویس خان باید د خپل دې عالي مقصد د پوره کولو لپاره ډېر پټ او په ډېره هوښیاري عمل کړی وي چي د یوې لویی سیمي د بېگلربیگي او د یوه لوی پوځ د جنرال د وژلو نقشه یي په داسي توگه عملي کړې وي چي تر پایه پوري یي خپلو دښمنانو ته نه د ځان په مقابل کي د اقدام کولو پلمه په لاس ورکړې او نه یي گرگین ځان ته بدبین کړی وي.

په دې کي شک نسته چي گرگین به کندهار ته د میرویس د ستنېدلو او په اصفهان کي د هغه د قوي رقیب اعتمادالدولة د ملگري کېدلو له امله سخت په غوسه وو؛ مگر څرنگه چي په پایتخت کي یي نفوذ له لاسه ورکړی وو نو د خپل قوي حریف د له منځه وړلو لپاره یي په ښکاره هیڅ ډول اقدام نه سوای کولای. لاکهارټ انقراض سلسله صفویه ص ۱۰۱

دا چي په کندهار کي اوسېدونکو پښتنو، د میرویس په تحریک، پر گرگین باندي حملي کولو او د هغه د عسکرو قتلولو ته حاضر سول او پر خپله خاوره او ملکونو باندي یي د صفوي دربار احتمالي حملي ومنلي او خپلي سینې یي د بلا مخې ته سپر کړې؛ د دې معنا دا ده چي گرگین باید خلک دونه زورولي وي چي تر پزې یي رسولي ول او هغوی ته یي د نجات بله لاره نه وه پرې ایښې.

که چیري د صفوي شاهانو اوحکمرانانو اداري فساد ته وگورو نو موږ ویلای سو چي گرگین او د هغه گرجي عسکرو او قواوو به د واکدارۍ په قلمرو کي د خلکو د سر، مال اوناموس هیڅ پروا نه وي ساتلي. خو دا چي ځیني مورخین، قاضی عطاءالله ( د پښتنو تاریخ ص ۶۶ ) ملیسن، د افغانستان تاریخ ص ۲۲۳ په دې عقیده دي چي گرگین د میرویس څخه وغوښتل چي خپله لور هغه ته واده کړي او یا یي د هغه حرم ته واستوي او مرحوم بېنوا، میرویس نیکه ص ۵۸، فرهنگ، افغانستان در پنج قرن اخیر جلد اول ص ۶۹، او سیدجمال الدین افغاني تتمت البیان ص ۷۷ ادعا کوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځير و لولـئ

چي گرگين د خپل زوی دپاره د ميرويس څخه د هغه د لور غوښتنه وکړه او ميرويس خان دا خبره خپل عزت او ناموس ته ښکاره سپکاوی وباله او پښتنو مشرانو هغه ته مشوره ورکړه چي خپله يوه ښکلې وينځه د گرگين حرم ته واستوي او هغه وغولوي او د مناسب فرصت انتظار وباسي او ميرويس هم خپله وينځه د گر گين حرم ته واستوله او گرگين تر مرگه د پښتنو او ميرويس په دې چل پوه نه سو؛ په دې برخه کي د ټولو ليکوالانو د معلوماتو او اطلاعاتو منبع يوه ده او هغه د انگرېزي تاجر او سياح او وروسته تاريخ ليکونکي جوناس هانوې سفر نامه ده چي پخپله د خپل متن د ليکلو او دغه راز ادعاگانو لپاره هيڅ ډول مأخذ نه لري او له ځانه يي متن ليکلی او نورو هم ورسره منلی دی. خو زما په عقيده د کندهار د هغه وخت د حوادثو په باره کي بايد د جوناس هانوې او نورو دغه ډول مورخينو او سياحانو اطلاعات او ليکني په غور او بشپړ احتياط سره وکتل سي.

مورخينو ځکه د هانوې ټولي خبري په پټو سترگو منلي دي چي د کندهار د پيښو او د ميرويس د پاڅون په باره کي بل مفصل کتاب موجود نه وو او هغه پخپله دونه په جرأت ليکنه کړې ده لکه په ټولو پيښو کي چي پخپله حاضر وي. په داسی حال کي چي جوناس هانوې، په کندهار کي، د ميرويس خان له پاڅون څخه تقريباً ۴ کاله وروسته زېږېدلی دی. افغانستان يي په سترگو نه دی ليدلی او ايران ته هم يو ځل د خپل تجارت لپاره تللی او چي غلو يي مالونه ورڅخه لوټ کړي دي نو نادرافشار ته يي عريضه کړې او هغه يي له ليري ليدلی دی او بيا په خپل ټول ژوند کي ايران ته هم نه دی تللی. په دې صورت کي بايد هانوې د خپلو معلوماتو منبع ښودلې وای او چي ده منبع نه ده ښودلې نو نورو مورخينو او ليکوالانو بايد د ده په کتاب او اطلاعاتو د استناد کولو په وخت کي دا فکر کړی وای چي هانوې دا خبری د چا په حواله کوي.

د کندهار د پاڅون د علتونو او پخپله د ميرويس خان د پاڅون په باره کي نه يوازې زموږ داخلي مورخينو بلکه د ډاکټر لاکهارت او ډاکټر ويليم فلور په څېر غښتلو مورخينو د جوناس هانوې په بې اساسو ادعا گانو او اطلاعاتو استناد کړی دی چي که موږ ټولو ته جلا جلا اشاره کوو د موضوع څخه ليري کيږو او مجبور يوچي د هانوې په څېر يو بل لوی کتاب وليکو.



[په افغان جرمن آنلاين پورټال کې د جهاني صاحب آرشيف]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ